AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پوهنمل دکتوراندوس رحمت څواکمن ۲۰۲۰/۰۹/۲۶

# د کانکور ازموینې د اصلاح او سمون اړتیا

که څه هم زموږ ټول تعلیمي او تحصیلي نظام له سترو ستونزو او ننګونو سره مخ دی، خو له نیکه مرغه په دې وروستیو کې ډېرې بنسټیزې او اغیزمنې کړنې هم ترسره شویدي، چې یوه له دغو کړنو د کانکور ازموینو روڼتیا او د عصري ټکنالوژۍ پر مټ، د ازموینې سرتاسري اخستنه او پر وخت پای ته رسونه ده.
په زده کړو کې د ځنو لاس ته راوړنو او ستونزو په هکله ما پخوا هم لیکنې کړېدي، په هکله به یې یوه بله بشپړه لیکنه او طرحه هم خپره کړم، خو اوس یوازې د کانکور په برخه کې اصلاحاتو ته د چارواکو پام راګرځوم .
لومړی د کانکور په هکله د خپلې یوې خاطرې او تجربې یادونه کوم چې کیدای شي یو شمیر نورو هم دا حالت لیدلی او تجربه کړی وي. زه په ښوونځي کې له لومړۍ درجې زده کوونکو ګڼل کیدم، خو په کانکور کې په ټیټه نومره پوهنتون ته بریالی شوم.
له ماسره د پوهنتون د لومړی سمستر په ټولګي کې، هغه شخص هم و، چې تر ټولو یې لوړی نومرې ترلاسه کړې وي. ددې ترڅنګ زموږ په ټولګي کې ، د افغانستان له ټولو سیمو، له شمال تر جنوب او له ختیځ تر لویدیز، څه ناڅه ۷۵ محصلین و. په دوی کې ۱۶ تنه د بیلابیلو لیسو د لومړی درجې فارغان هم و .
فکر کوم هغه مهال زموږ له ټولې لیسې څوتنه د ګوتو په شمار زده کوونکي پوهنتون ته بریالی شوی وه. هماغه وخت په ټول هیواد کې یوازې دوو دولتي پوهنتونونو فعالیت درلود، کابل پوهنتون او ننګرهار پوهنتون.
که څه هم ما په کانکور کې د خپلې هیلې خلاف، ډیره جګه نومره نه وه ترلاسه کړې، خو د پوهنتون د لومړي سمستر په دې ۷۵ تنو کې مې تر ټولو جګې نومرې ترلاسه کړې، د صنف عمومی اول نمره شوم او تر پایه مې خپله بریا او درجه وساتله.
خو هغه چا چې، په کانکور کې تر ټولو جګې نومرې اخستې وې، پوهنتون یې د ځنو نورو محصلینو په څېر په مات او ګوډ ډول په عادي توګه او په لږو نومرو پای ته ورساوه.
زما له دې یادونې هدف داو چې، یوازې د کانکور د از موینې پورې د زده کوونکو د راتلونکو زده کړو غوټه کول ، بشپړ علمي او منطقي نه بریښي، ځکه چې په ځنو حالاتو کې یې پایلې د زده کوونکي د سویې لپاره د معیار ښکارندویې نه شي کولای. دا تصور چې په کانکور کې به په لوړو نومرو زیاتره بریالي کسان په پوهنتونونو کې هم ښې بریاوې ولري، کله کله معکوس تصویر هم وړاندې کوي.
د خپل شخصي یادښت او تجربې په نظر کې نیولو سره اوس راځم اصلي بحث ته، هغه داچې ولې باید د کانکور ازموینه اصلاح او څرنګه باید اصلاح شي؟ او په ځنو پر مختللو اروپایي هیوادونو کې دا حالت څرنګه دی؟
له دې امله چې د کانکور ازموینه د زده کړو له ټول بهیر سره تړاو لري، نو ښه به وي چې، په ښوونځیو کې دوه نور کارونه هم ترسره شي:
۱ ــ ژر ترژره له نهم ټولګي پورته، څانګې رامنځ ته شي او نور د عمومي زده کړو لړۍ پای ومومي

۲ ــ همدارنګه غوره به وي چې له اتم یا نهم ټولګي وروسته، زده کوونکي د زده کړو دوو لورو ته برابر شي. هغوی چې له پوهنتوني زده کړو سره مینه لري او وړتیا یې لري تیوریکي ښوونځیو ته شامل شي او هغوی چې لنډې، اسانه زده کړې، ژر کار کول او یوه حرفه یا کسب زده کول غواړي باید خرفوي او مسلکي زده کړو ته وروپیژندل شي.
ددې تر څنګ هغوی چې په پوهنتونونو کې د شمولیت لیوالتیا لري باید ټولې زده کړې یې د کانکور د یوې ورځې ازموینې پر چانس پورې محدودې نه شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

زما له نظره غوره ده چې، په سلو کې څه نا څه پنځوس د کانکور از موینی نتیجه محاسبه شي او نور پاته د لسم، یوولسم او دولسمو ټولګیو نومری په نظر کې ونیول شي.

په تخنیکي اړخ به یې په یوه بله تفصیلي طرحه کې چې ما دمخه لیکلی او په راتلونکو ورځو کې به یې خپره کړم، پوره معلومات خپاره شي.

لوړو زده کړو ته د شمولیت لپاره د ښوونځي د وروستیو دریو کلونو پنځوس یا زیات و کم سلنه او په سلو کې پنځوس د کانکور د ازموینو د نومرو په نظر کې نیول ډیری ګټی لري او په لوړو زده کړو کې د شمولیت یوه نسبي اغیزمن معیار لپاره لاره هوارولای شي .

دا ځکه چې، هغه زده کوونکی چې له ښاري سیمو لری په ناوړه درسی چاپیریال کې په لږو امکاناتو زده کړي کوي د خپل ښوونځي د درسي چاپیریال مطابق ترلاسه شوی نتیجه او نومری به یې هم په نظر کې ونیول شي .

ددی تر څنګ به سترګي یوازی د کانکور لپاره میخانیکي تیاري ته نه وي، بلکه د ښوونځیو د مضامینو زده کول به هم د غوره نومرو د ترلاسه کولو لپاره په لیوالتیا او سیالۍ سره دوام و مومي .

بل داچې که چاته د کانکور په ورځ ناروغي او یا بله ستونزه رامنځ ته کیږي، نو د ښوونځی نومری به یې د بشپړی ناکامۍ مخه و نیسي او د زده کړو ټول چانس او د سویې د سطحي معلوموول به یې یوازی د کانکور د ازموینی پوری محدود نه وي.

په اروپایې هیوادونو کې هم د یوه زده کوونکې د زده کړو ټول سرنوشت په کانکور پوری تړلی نه وي او د ښوونځي د پای ازموینی، د ټست او ازمون نوری لاری هم په کې په نظر کې نیول کیږي .

د بیلګي په توګه په زیاترو اروپایی هیوادونو کې ښوونځي د سویې او پوهي د سطحي له امله په څو ډوله وي. هغه ښوونځي معلوم وي چې زده کوونکي یی پوهنتونونو ته لار مومي، ځکه لایق زده کوونکې ورته وار دمخه له لومړنیو زده کړو وروسته جذب شوی وي. همدارنګه د ټولو ښوونځیو زده کوونکې د پوهنتونی زده کړو لپاره نه روزل کیږي او له ټولو په پوهنتونونو کې د شمولیت سرتاسري کانکور نه اخستل کیږي .

همدارنګه د ټولنی او هېواد د اړتیاوو پر بنسټ، د دقیقي اړتیا سنجول شوی او پلان شوي کړنلاری له مخي محصلین بیلابیلو څانګو او پوهنځیو ته لار مومي.

د ساري په توګه هالنډ کې څه ناڅه په سلو کې څلویښت د اتم ټولګي فارغان هغو ښوونځیو ته جذبیږي چې له بریالي پای ته رسولو او دپلوم ترلاسه کولو وروسته هرومرو پوهنتونونو ته شاملیږي. پاته نور په سلو کې شپیته یې داسی حرفه یې مسلکي زده کړو ته دوام ورکوي چې په درسي نصاب کې یې د مسلک مطابق زیاتي عملي زده کړی تنظیم شوی وي .

په اروپا کې بلجیم، اسپانیه، سویس او سویډن د کانکور ازموینی نلري. په هالنډ کې د مرکزي سرتاسري ازموینی او یا کانکور په سلو کې پنځوس نمري په نظر کې نیول کیږي. په فرانسه کې بیا د سرتاسري یا کانکور ازموینی یوازي په سلو کې دیرش پوهنتونونو ته د شمولیت لپاره ارزښت لري.

ددی ترڅنک په اروپایی هیوادونو کې زده کړی په تمامه معنا سرتاسري او متوازنی هم دي. درسي موادو، مسلکي ښوونکو او په ټول کې د زده کړو په امکاناتو کې توپیر نه شته او د درسي نصاب بشپړ تطبیق حتمي دی .

خو په افغانستان کې چې متوازنی زده کړی هم نشته، یو ښوونځی کمپیوتری اسانتیاوی لري خو یو بل درسی کتابونه، سم درسی وسایل او روزل شوي ښوونکي هم نلري ، نو څرنګه کیدای شي چې د ټول افغانستان د ټولو ښوونځیو د فارغ شویو زده کوونکو څخه دی دا تمه وي چې په سویو کې به یې ډیر زیات توپیر نه وي .

ایا دا به له منطق او انصاف سره برابره وي چې د یوه نامتوازنه تعلیمي چاپیریال ټولو زده کوونکو ته یو ډول ازموینه په نظر کې ونیول شي او د لوړو زده کړو چانس یې یوازی د کانکور له ازموینی سره وتړل شي؟

زما له نظره دا حالت لوړو زده کړو ته د ټولو زده کوونکو په مساوي او عادلانه لاسرسي کې مرسته نه کوي. نو له همدی امله اړینه ده چې د زده کوونکو سرنوشت یوازي د کانکور نومرو پوري ونه تړل شي.

د ښوونځي نومري او نور ازمایښتي نتایج هم، لوړو زده کړو ته په شمولیت کې اغیزه ولري. د کانکور ازموینه هم اړینه ده، خو یوازي د نتیجو نمایې او یا له دی زیات یې باید د لوړو زده کړو د شمولیت لپاره معیار وګڼل شي .

له دی امله چې د ښوونځیو از موینی هم رنې او له فساده خالي نه دي، نو غوره به وي چې، د دواړو برخو نومری یو څه د زده کوونکي د سطحي او سویې په معلومولو او لوړو زده کړو ته د شمولیت د معیار په ټاکلو کې مرسته وکړي او په زده کړو کې د لا روڼتیا او عدالت سبب شي .

پوهنمل دکتوراندوس رحمت ځواکمن
هالنډ/25- 9- 2020



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ